رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

أَحْكَامُ الهَدْيِ وَالأَضَاحِي وَالتَّذْكِيَةِ | بشتو | پښتو

# د هديې، قربانۍ او ذبحې احکام

د مسجد الحرام او مسجد نبوي
د ديني چارو د رياست تر مشرۍ لاندې علمي کمېټه

**ح جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات ، ١٤٤٨هـ**

جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات
أحكام الهدي والأضاحي والتذكية - بشتو. / جمعية خدمة
المحتوى الإسلامي باللغات - ط١. .- الرياض ، ١٤٤٨هـ
١٥ ص ؛ ..سم

**رقم الإيداع: ١٤٤٨/٣٤٩٦**
**ردمك: ٩٧٨-٦٠٣-٥١٧-٣٦١-٢**

# أَحْكَامُ الهَدْيِ وَالأَضَاحِي وَالتَّذْكِيَةِ

# د هديې، قربانۍ او ذبحې احکام

اللَّجْنَةُ العِلْمِيَّةُ

بِرِئَاسَةِ الشُّؤُونِ الدِّينِيَّةِ بِالمَسْجِدِ الحَرَامِ وَالمَسْجِدِ النَّبَوِيِّ

**د مسجد الحرام او مسجد نبوي د ديني چارو د رياست تر مشرۍ لاندې علمي کمېټه**

بِسْمِ اللهِ الرَّحمَنِ الرَّحِيمِ

# د هديې، قربانۍ او ذبحې احکام

## مقدمه

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على المبعوث رحمة للعالمين، وعلى آله وصحبه ومن استنَّ بسنته، واهتدى بهديه إلى يوم الدين، أما بعد:

دا يو لنډ پيغام دی چې د مسلمان لپاره پکې د هديې، قربانۍ او ذبحې احکام بيان شوي دي، موږ دا د حرمينو شريفينو زيارت کوونکو ته راټول کړي تر څو د خپل دين په اړه پوهه او بصيرت ولري، له کريم او منان ذات؛ الله تعالی څخه هيله لرو چې دغه رساله ګټوره او د خپلې خوښۍ لامل وګرځوي، بېشکه هغه تر ټولو غوره هغه ذات دی چې سوال ترې کيږي او تر ټولو سخي ذات دی چې هيله ترې کيږي.

د ژبو په برخه کې د اسلامي محتوا د خدماتو د ټولنې علمي کمېټه

### د هديې او قربانۍ احکام

هدي: هر هغه څاروی او يا بل څه ته ويل کيږي چې د حرم لپاره ډالۍ کيږي او پکې حلالېږي لکه اوښان او داسې نور؛ دا نوم ځکه ورکړل شوی دی چې د الله سبحانه تعالی لپاره د ډالۍ په توګه وړاندې کيږي.

أضحية (د همزې په ضمې او کسرې سره): هغه څه چې د اختر په ورځ او د تشريق په ورځو کې الله تعالی ته د تقرب

لپاره ذبح کېږي.

ټولو مسلمانانو د دې دواړو په مشروعیت اجماع کړې ده.

تر ټولو غوره هدي: اوښان او بیا غواګانې دي پدې شرط چې ټوله (پوره) ډالۍ شي؛ د لوړې بيې او غوښې د ډېروالي له امله چې غریبانو ته یې ګټه رسیږي، بیا پسونه.

د هر ډول څاروي څخه غوره هغه دی چې چاغ او ښه وي، بيا هغه چې قيمت يې ډېر وي؛ د الله تعالی د دې وينا پر اساس:

﴿ذَٰلِكَۖ وَمَن يُعَظِّمۡ شَعَـٰٓئِرَ ٱللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقۡوَى ٱلۡقُلُوبِ ٣٢﴾

ژباړه: (دغه (حکم بيان شو) او څوك چې د الله د نښو تعظيم وکړي، نو بېشکه دا د زړونو له تقویٰ څخه ده.) [سورة الحج: ٣٢].

او په پسونو کې يوازې جذع منل کيږي؛ جذع هغه دی چې شپږ مياشتنی وي، او له نورو څارويو (اوښانو، غواګانو او وزو) څخه ثنيه شرط دی، ثنيه په اوښانو کې: هغه ده چې پنځه کاله يې پوره وي، او په غواګانو کې ثنيه هغه ده چې دوه کاله يې پوره وي. او په بزو کې ثنيه هغه ده چې يو کال يې پوره کړی وي.

او په هدی کې پسه د يو کس لپاره بسنه کوي، خو په قربانۍ کې پسه د يو کس او د هغه د کورنۍ لپاره کافي دی، او په هدي او قربانۍ کې يو اوښ يا يوه غوا د اوو کسانو لپاره بسنه کوي؛ د جابر بن عبدالله رضي الله عنهما د حديث پر اساس چې وايي:

«نَحَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ الْبَدَنَةَ عَنْ سَبْعَةٍ، وَالْبَقَرَةَ عَنْ سَبْعَةٍ».

«موږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د حديبيې په کال کې يو اوښ د اوو کسانو او يوه غوا د اوو کسانو له خوا ذبحه کړل». او په بل لفظ کې:

«خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُهِلِّينَ بِالْحَجِّ فَأَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَشْتَرِكَ فِي الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ كُلُّ سَبْعَةٍ مِّنَّا فِي بَدَنَةٍ».

«موږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره حج ته لاړو، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم موږ ته امر وکړ چې په هر اوښ او غوا کې دې اوه کسان سره شريک شي». او په بل لفظ کې راځي:

«حَجَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَحَرْنَا الْبَعِيرَ عَنْ سَبْعَةٍ، وَالْبَقَرَةَ عَنْ سَبْعَةٍ».

«موږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره حج ته لاړو، نو موږ يو اوښ د اوو کسانو له خوا او يوه غوا د اوو کسانو له خوا ذبحه کړل».(۱)

د ابو ايوب انصاري رضي الله عنه د حديث له مخې، کله چې له هغه څخه پوښتنه وشوه: د رسول الله صلى الله عليه

---

(۱) مسلم روايت کړی دی.

وسلم په وخت کې قرباني څنګه کېدله؟ نو هغه وويل:

«كَانَ الرَّجُلُ يُضَحِّي بِالْشَاةِ عَنْهُ وَعَنْ أَهْلِ بَيْتِهِ، فَيَأْكُلُونَ، وَيُطْعِمُونَ، حَتَّى تَبَاهَى النَّاسُ فَصَارَتْ كَمَا تَرَى».

"يو سړي به د ځان او خپلې کورنۍ له خوا يو پسه قرباني کاوه، نو له هغه به يې خوړله، او نورو ته به يې هم غوښنه ورکوله، تر دې چې خلکو ځان ښودنه پيل کړه او هر څه هغه ډول شول لکه څنګه چې ته ګورې"[1].

او پسه د اوښ يا غوا له اوومې برخې څخه غوره دی.

يوازې هغه څاروی چې له ناروغۍ، معلوليت يا کمزورۍ څخه سالم وي، د قربانۍ او هدې لپاره جايز دی؛ نو په هغه څاروي قرباني نه کيږي چې يوه سترګه يې چوپه وي او ښکاره ړوندوالی ولري، او په پوره ړنده هم قرباني نه کيږي، او په ډنګره؛ هغه چې هډوکي يې پوچ وي او ماغزه ونلري، ګوډه چې د روغو سره تګ نشي کولی، او کنډاسه چې مخکيني غاښونه يې له بيخه وتلي وي، او وچه چې غولانځه يې د زوړوالي له امله وچه شوې وي، او ناروغه چې ناروغي يې په څرګنده توګه ښکاره وي، دليل يې د براء بن عازب رضی الله عنه حديث دی چې وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم زموږ په منځ کې ودرېد او ويې فرمايل:

«أَرْبَعٌ لَا تَجُوزُ فِي الْأَضَاحِي: الْعَوْرَاءُ الْبَيِّنُ عَوَرُهَا، وَالْمَرِيضَةُ

---

[1] ترمذي او ابن ماجه روايت کړی.

الْبَيِّنُ مَرَضُهَا، وَالْعَرْجَاءُ الْبَيِّنُ ظَلْعُهَا، وَالْعَجْفَاءُ الَّتِي لا تُنْقِي».

"په قرباني کې څلور شيان جائز نه دي: هغه ځاروی چې ښکاره ړوندوالی ولري، هغه ځاروی چې ښکاره ناروغي ولري، هغه چې څرګند ګوډوالی ولري، او هغه ځاروی چې شيدې نه کوي"[1].

امام ترمذي رحمه الله وايي: "او پر همدې د اهل علمو عمل دی"[2].

د تمتع هديه او د قربانۍ د ذبحې وخت د اختر له لمانځه څخه وروسته پيلېږي او د تشريق تر وروستيو ورځو پورې دوام لري، د صحيح قول پر بنسټ.

که چېرته د تمتع يا قران هدي وي، او يا قرباني وي، نو مستحب ده چې يوه برخه وخوري، يوه برخه ډالۍ کړي او يوه برخه يې صدقه ورکړي؛ د الله تعالی د دې وينا پر اساس:

﴿...فَكُلُواْ مِنۡهَا وَأَطۡعِمُواْ ٱلۡبَآئِسَ ٱلۡفَقِيرَ﴾

(نو له هغو نه تاسو هم وخورئ او په تنګلاسي فقير يې هم وخورئ). [سورة الحج: ٢٨].

د جبران د هدې په اړه، کومه چې: د احرام د ممنوعه اعمالو د ترسره کولو يا د واجب پرېښودلو له امله کيږي؛ له هغې څخه بايد هيڅ و نه خوري.

او څوک چې غواړي قرباني ورکړي؛ نو کله چې د

---

[1] ابو داود، ترمذي، نسائي او ابن ماجه روايت کړي.
[2] ترمذي روايت کړی.

ذوالحجې لومړۍ لسيزه پيل شي؛ تر هغه چې قرباني يې نه وي کړې، له خپلو ويښتانو او نوکانو څخه دې هيڅ شی نه اخلي؛ د رسول الله صلی الله عليه وسلم د دې وينا پر اساس:

«إِذَا دَخَلَ الْعَشَرُ، وَأَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يُضَحِّيَ؛ فَلَا يَأْخُذْ مِنْ شَعْرِهِ وَلَا مِنْ أَظْفَارِهِ شَيْئًا، حَتَّى يُضَحِّيَ».

"هر کله چې د ذوالحجې لومړۍ لس ورځې پيل شي او ستاسو څخه څوک قرباني کول غواړي، نو تر هغه چې قرباني يې نه وي کړي، بايد له خپلو ويښتانو او نوکانو څخه وانخلي"[١]

که څوک د دې څخه کوم يو ترسره کړي، نو د الله تعالی څخه دې بخښنه وغواړي، پرته له دې چې کومه کفاره پرې وي.

د هدي، قربانۍ او د نورو څارويو د حلالو طريقه په لاندې ډول ده:

١- ذبح کوونکی بايد مسلمان، هوښيار او عاقل يا کتابي وي، ذبح کوونکی بايد د ذبحې نيت ولري، او له الله تعالی پرته بل چاته ذبح ونه کړي، د ذبحې او نحر په وخت کې "بسم الله" ووايي، د حلالولو وسيله تيزه وي، نه دا چې د غاښ يا نوک څخه جوړه شوې وي، او وينه بايد پر خپل ځای و بهيږي، ذبح کوونکی بايد شرعي اجازه ولري (يعنی د ذبحې اجازه

---

[١] مسلم روايت کړی.

ولړي).[1].

٢ـ غوره قرباني بايد انتخاب کړي، او د بشپړې او ښې قربانۍ کوښښ وکړي؛ ځکه چې

«ضَحَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ، أَقْرَنَيْنِ، ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ، وَسَمَّى، وَكَبَّرَ، وَوَضَعَ رِجْلَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا».

" رسول الله صلى الله عليه وسلم دوه سپين، ښکرور او غټ پسونه قرباني کړل، دواړه يې په خپلو لاسونو حلال کړل، د الله نوم يې پرې واخيست، بسم الله يې وويله او خپله پښه يې د هغوی پر ورمېږونو کېښوده"[2].

٣ـ له (ځاروي) سره د احسان کولو په موخه هغه څه وشي چې د حلالې پر مهال ډېر ونه ځورېږي لکه: د حلالې لپاره تېزه چاړه کارول، او په زوره او چټکۍ سره يې په مرۍ تېرول؛ ځکه موخه دا ده چې ژر يې ساه په بشپړه توګه وويستل شي پرته له دې چې وربړېږي؛ دليل يې د شداد بن اوس رضي الله عنه حديث دی چې وايي: ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه دوه خبرې يادې کړي دي چې فرمايلي يې دي:

«إِنَّ اللهَ كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ، فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا

[1] أحكام الأضحية د علامه محمد بن عثيمين، (مخ ٥٦ ـ ٨٧).
[2] بخاري، او مسلم روايت کړي.

الْقِتْلَةَ، وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذَّبْحَ، وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ، فَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ».

«الله تعالی په هر شي نرمي کول فرض کړي دي، نو کله چې وژنه کوئ، په ښه توګه وژنه وکړئ، او کله چې ذبح کوئ، په ښه توګه ذبح وکړئ، خپله چاړه تېره کړئ، او خپلې ذبیحې ته ارامي ورکړئ»[1].

او د ځاروي په مخ کې چاړه تېره کول مکروه دي؛ له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې وايي:

أَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِحَدِّ الشِّفَارِ، وَأَنْ تُوَارَى عَنِ الْبَهَائِمِ، وَقَالَ: «إِذَا ذَبَحَ أَحَدُكُمْ؛ فَلْيُجْهِزْ».

«نبي صلی الله علیه وسلم حکم کړی چې چاړه تېره کړئ، او له ځارویو څخه یې پټه وساتئ، او فرمایلي یې دي: "کله چې ذبح کوئ، پوره چمتوالی ونیسئ»[2].

۴- که قرباني اوښ وي؛ نو په ولاړه یې حلال کړئ چې کیڼ لاس یې تړلی وي؛ دلیل یې د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما حدیث دی: «هغه یو سړی ولیده چې خپل د قربانۍ اوښ یې د حلالولو لپاره په ګونډو کړی و، نو ورته یې وویل: "ویې دروه په داسې حال کې چې تړل شوی وي، ځکه دا د محمد

[1] مسلم روایت کړی.

[2] احمد، او ابن ماجه روایت کړي دی.

صلی الله علیه وسلم سنت دي"[1].

۵- که قرباني له اوښ څخه پرته بل څه وي، نو پر کيڼ اړخ يې څملوي او په ورمېږ يې پښه ږدي؛ تر څو په ښه توګه ذبحه ترسره شي؛ دليل يې د انس رضي الله عنه حديث دی چې وايي:

«ضَحَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَبْشَيْنِ، أَمْلَحَيْنِ، أَقْرَنَيْنِ، ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ، وَسَمَّى، وَكَبَّرَ، وَوَضَعَ رِجْلَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا».

»رسول الله صلی الله علیه وسلم دوه برګ ښکرور پسونه قرباني کړل، په خپل لاس يې حلال کړل، بسم الله او الله اکبر يې پرې وويل، او خپله پښه يې د هغوی دواړو په ورمېږونو کېښودله»[2].

۶- د ذبحې او نحر پر مهال بسم الله ويل واجب دي، دليل يې د الله تعالی دا وينا ده:

﴿فَكُلُواْ مِمَّا ذُكِرَ ٱسۡمُ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ إِن كُنتُم بِـَٔايَٰتِهِۦ مُؤۡمِنِينَ ١١٨﴾

نو تاسو له هغې (مذبوحې) څخه خورئ چې پر هغې د الله نوم ياد شوی وي، که چېرې تاسو د هغه پر آيتونو آيمان درلودونکي ياست. [سورة الأنعام: ۱۱۸]، او د الله تعالی دغه

---

[1] بخاري، او مسلم روايت کړی.
[2] بخاري او مسلم روايت کړی دی.

وینا:

﴿وَلَا تَأۡكُلُواْ مِمَّا لَمۡ يُذۡكَرِ ٱسۡمُ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ وَإِنَّهُۥ لَفِسۡقٞۗ وَإِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰٓ أَوۡلِيَآئِهِمۡ لِيُجَٰدِلُوكُمۡۖ وَإِنۡ أَطَعۡتُمُوهُمۡ إِنَّكُمۡ لَمُشۡرِكُونَ ١٢١﴾

(او تاسو له هغې (مذبوحې) څخه خوراك مه كوئ چې پر هغې باندې د الله نوم نه وي ياد كړى شوى او بېشكه دا (خوراك كول) خامخا فسق او نافرماني ده او بېشكه يقينًا شيطانان خپلو دوستانو ته وسوسې اچوي، د دې لپاره چې له تاسو سره جګړه وكړي او كه چېرې تاسو د هغوى اطاعت وكړئ، (بيا نو) بېشكه تاسو (هم) خامخا مشركان يئ). [سورة الأنعام: ۱۲۱]، او د پيغمبر صلى الله عليه وسلم دغه وينا:

«مَا أَنْهَرَ الدَّمَ وَذُكِرَ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ؛ فَكُلُوهُ مَا لَمْ يَكُنْ سِنًّا وَلَا ظُفْرًا».

«هغه (ځاروى) چې وينه يې جاري شي او د الله نوم پرې واخيستل شي، نو هغه وخورئ، پرته له دې چې د غاښ يا نوك په وسيله ذبح شوى وي»[۱].

او تكبير «الله اكبر» سره له تسميې (بسم الله) ويل مستحب دي؛ د جابر رضي الله عنه د حديث له مخې چې وايي: زه په لوى اختر كې د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په مصلى

[۱] بخاري او مسلم روايت كړي.

کې حاضر وم، کله يې چې خطبه پای ته ورسوله، له منبر څخه را ښکته شو يو نر پسه ورته را وړل شو، رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه په خپل لاس ذبح کړ او وېې فرمايل:

«بِسْمِ اللهِ وَاللهُ أَكْبَرُ، هَذَا عَنِّي وَعَنْ مَنْ لَمْ يُضَحِّ مِنْ أُمَّتِي».

"بسم الله والله اکبر، دا زما او د هغه چا له خوا دی چې زما په امت کې يې قرباني نه وي کړې"[1].

۷- د ستوني، مرۍ او دوه رګونو (ودجينو) پرې کول او د ويني بهېدل: امام ابن باز رحمه الله وايي: «د اوښانو، غوايانو او پسونو شرعي ذبح درې حالتونه لري:

لومړی حالت: ذبح کوونکی ستونی، مرۍ او دواړه ودجين (رګونه) پرې کوي، چې دا تر ټولو بشپړه او غوره ذبحه ده، که دا څلور شيان پرې شي؛ نو د ټولو علماوو په نزد دغه ذبحه حلاله ده.

دويم حالت: حلقوم، مرۍ او يو ودج (رګ) پرې کول، دا هم حلال؛ صحيح او پاک دی، که څه هم د لومړي حالت څخه ښکته دی.

دريم حالت: يوازې ستونی او مرۍ پرې کول، پرته له ودجينو (دوه رګونو) څخه، چې دا هم صحيح دی، او يو شمېر علماوو قبول کړې دی، د هغوی دليل د رسول الله صلى الله عليه وسلم دغه حديث دی:

«مَا أَنْهَرَ الدَّمَ وَذُكِرَ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ فَكُلُوا، لَيْسَ السِّنَّ وَالظُّفْرَ».

---

[1] ابو داود، او ترمذي روايت کړي، او الباني صحيح بللی.

«هغه (څاروی) چې وينه يې وبهيږي او د الله نوم پرې واخيستل شي، نو هغه وخورئ، پرته له هغه چې د غاښ يا نوک په وسيله ذبحه شوی وي»[1]، او په دې مسئله کې همدا راجح دی»[2].

له الله تعالی څخه سوال کوو، هغه څه مو چې زده کړي ګټور وګرځوي، او هغه څه را زده کړي چې ګټور وي؛ بېشکه هغه سخي او کريم ذات دی، وصلی الله وسلم علی نبينا محمد وعلی آله وسلم تسليماً کثيرًا.

***

---

[1] بخاري او مسلم روايت کړي.
[2] وګورئ: مجموع فتاوی ابن باز (۱۸/ ۲٦).

رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

# رسالة الحرمين

## د حرمين پيغام

د مسجد الحرام او مسجد النبوي زيارت کوونکو لپاره
شرعي لارښود په بېلابېلو ژبو کې

978-603-517-361-2